مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

٢٠٢١/٠۶/٢٠

# د زاهـــد نشـــه

د شــفق پـــه نظـــاره کـــې
د سرو گلو په باغچه کـــې
د ســرو میــو پـه ویـاله کې
حورې لامبي، حورې ناڅي
د زاهـد سترگې ړنـدې دي

*****

د بـربنـــډو شـــکلو نجونو
د بـــدن پـــه غــوړیـدلو
د سرو شونـډو پـه زبیښلو
د ســـرو ســترگو په ویشتلو
د زاهـد پــه لاس تـسبې دي

*****

د پیغلــوتــو پـه سینگار کې
د ســرو گلـو پــه بازار کــې
د بـــدن پــه ســره انگار کې
د بســتر پـــه تار و مار کې
د زاهــد ســترگې ویـدې دي

*****

د بیلـــتون پـه شــوگیرو کې
پـــه کــوڅــو کې غلي غلي
پـــر دیــوال بـانــدې ختلا
لـــه بــرجــونــو اوښتلا
لمر سپوږمۍ پسې زغاستلا
د زاهـــد لارې اوږدې دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*****

د کباب په تورو وينو
د رباب په چغو چغو
د شباب د آس په زغاسته
د انسان د زړه په هيلو
د زاهد هيلى سړې دي

*****

په ګواښ او په نارو کې
د منبر په نغارو کې
د وريښمو په جامو کې
د ريا په حمامو کې
د زاهد نشې پرتې دي...

ولى ناروغ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ